Welcome Afghans



# کورته ته ښه راغلاست - د پرنس اډوارډ ایلینډ




نفوس: **۱۵۴,۳۳۱ خلک** (۲۰۲۱ سرشمېرنه)
(ګڼ شمېر د سویلي او لویدیځې آسیا خلک او عربان پکې شامل دي)

## د دې سیمې په اړه

د پرنس اډوارډ ایلینډ (PEI) په ولایت[١]

- کې د چارلیټاون (پلازمېنه) او سمرسایډ ښارونه شامل دي
- د نوو سکوشیا او نیو برونزویک ولایتونو ته نږدې موقعیت لري
- د اکاډین او فرانکوفون اړوند د خوښیو له ډکو ټولنو څخه جوړ شوی دی

PEI د خپلې بډایه طبیعي ښکلا او د نړۍ په کچه د غوره سمندري خوړو د درلودلو له امله پیژندل کیږي.

ژمي یې سوړ او واورین وي، د جنورۍ په میاشت کې یې د تودوخې ورځنۍ منځنۍ ټیټه درجه د سانتي ګراد په کچه -۱۱ °درجې وي. اوړي یې ګرم وي، د جولای په میاشت کې یې ورځنۍ منځنۍ لوړه درجه د سانتي ګراد په کچه 28° درجې وي.

[١] دلته ورکړل شوي ټول لېنکونه یواځې په انګلیسي ژبه دي.



یو سړی خپل ماشوم په پرنس اډوارډ ایلینډ کې د کابوټ ساحل ته په لامبو وهلو سره وړي.

## د پرنس اډوارډ ایلینډ خلکو او ځمکې په اړه

د دې ځايي خلک په کاناډا کې له اروپايي میشتو او هغو خلکو له رسیدو څخه مخکې دلته اوسیږي چې دغه ځمکه یې د لومړي ځل لپاره کشف کړې وه. PEI د میکماق (میګ- ماه) قومونو په دودیزه خاوره کې موقعیت لري.



له بحر څخه د چارلیټاون ننداره، پرنس اډوارډ ټاپو، کاناډا.

## ورځنی ژوند، دنده او ښوونځي ته تلل

PEI په دنده کې د پرمختګ، سوداګری کولو، زده کړو او بشپړ ورځني ژوندانه لپاره غوره ځای ګڼل کیږي.

تاسو کولی شئ د PEI اړوند په دغو صنعتونو یا فابریکو کې دندې پیداکړئ لکه

- سیاحت
- صادرات
- بایو ساینس
- کب نیونه
- کرنه او زراعت
- تولیداتو

د جنوری تر ۱، ۲۰۲۳ پورې، په PEI کې د لږ تر لږه رسمي تنخواه ۱۴،۵۰ ډالره په یوه ساعت کې بنودل شوې ده.

د کور کرایې پکې توپیر کوي. د یوې کورنۍ لپاره یکې د کور اخیستلو منځنۍ قیمت نږدې ۵۱۷,۰۰۰ ډالره دی. د ۲ کوټو لرونکي اپارتمان په میاشت کې نږدې ۱,۰۰۰ ډالره کرایه درلودلی شي.

د PEI له ځانګړي دولت څخه د کور کرایې کونکو او کرایې ورکونکو د حقوقو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

دلته ګڼ شمیر ښوونځي، د ورځنۍ پاملرنې خدمات، او له ښوونځي وروسته پروګرامونه شتون لري. په کاناډا کې، زده کوونکي زیاتره له وړکتون (له ۳ یا ۴ کلنۍ) څخه تر ۱۲م ټولګي (تر ۱۷ یا ۱۸ کلنۍ) پورې ښوونځي ته ځي. له هغې وروسته، دوی کولی شي کالج یا پوهنتون ته ولاړ شي یا هم دنده پیل کړي.

PEIیو عمومي پوهنتون او دوه د ټولنې کالجونه لري

- د پرنس اډوارډایلینډ پوهنتون
- د هالنډ کالج
- د ډیلیلي کالج

تاسو کولی شئ ګڼ شمیر سپورتونه هم وکړئ، لکه

- منډه وهنه
- سکواش
- هاکي
- ګولي فوټبال (فوټبال)
- باسکیټبال
- لامبو وهنه

د تفریحي ادارو په اړه نور معلومات له PEI تفریحي مرکز څخه ترلاسه کړئ.

تاسو کولی شئ د کال په اوږدو کې په PEI کې له ترسره کېدونکو مراسمو څخه خوند واخلئ لکه

- د موسیقۍ جشنونه
- تیاتر یا سینما
- د چارلیټاون جشن

PEIد خپل ساحل په اوږدو کې له ۱,۱۰۰ کیلومتره نرمې شګې او د سور رنګه شګلنو ډېرو پرخې لري. تاسو کولی شئ له عامه پارکونو او د چکر له نورو ځایونو څخه په اوړي، او ساتېرۍ له فعالیتونو لکه د واورې له غرنیزې لوبې، د واورې له عادي لوبې، او د یخ له لوبې څخه په ژمي کې خوند واخلئ.

## دیني او کلتوري اتحادیې

د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور لاندې، تاسو کولی شئ په کاناډا کې د خپلې خوښې دین پلی کړئ. تاسو ته د خدماتو چمتو کوونکې اداره کولی شي له تاسو سره په PEI کې د سیمه ییزو کلتوري اتحادیو سره په اړیکه نیولو کې مرسته وکړي.

## ځانګړي خواړه

په دې سیمه کې د خوراکي توکو ګڼ شمیر پلورنځي نړیوال خوراکي توکي پلوري. ډېری لوی سوپر مارکیټونه او د منځني ختیځ اړوند ګڼ شمیر پرچون پلورنځي حلاله غوښه هم پکې پلوري. ستاسو د خدماتو چمتو کوونکې اداره کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو خپلې سیمې ته نږدې پلورنځۍ پیداکړئ.

## د نویو راغلو اشخاصو لپاره ګټور معلومات

په دې سیمه کې له تاسو سره د مرستې لپاره نورې سرچینې

- کډوالي او په کاناډا کې ځای پرځای کېدل
- د PEI د کډوالو اداره
- کاناډا ته ښه راغلاست: د نوي راغلو اشخاصو لپاره د خبرونو لړۍ
- خپلې سیمې ته نږدې د نوي راغلو اشخاصو اړوند نوي خدمتونه پیداکړئ
- د PEI څو کلتوري شورا